مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین

۲۰۲/۱۱/۰۴

# افغان مهاجرین، لېږد که جبري اخراج

څه موده د مخه د پاکستان د مؤقت حکومت د کورنیو چارو وزیر(سرفراز بوګټي) په خپلو خبرو کې د کابو دوه میلیونو هغو افغان کډوالو چې په پاکستان کې بې له لاسوندونو ژوند کوي بیرته افغانستان ته د استولو خبرداری ورکړ او د یوې میاشتې موده یې ورته وټاکله. ټولو ته جوته ده چې د سرفراز بوګټي له دغو څرګندونو وروسته د پنجابي پولیسو له لورې د افغان کډوالو پر کورونو باندې چاپې، تشدد، رشوت، جبر، تهدید او زندانونو ته استول په ډېر ظالمانه او وحشیانه ډول پیل شول.

په دغو کډوالو کې شته ډېر داسی کسان چې هلته زیږیدلی، ځوانان شوی، هلته یې کاروبار پیل کړی، د کار وسایل او جایدادونه یې هلته تر لاسه کړي، چې د داسی کسانو جبری ویستل مال او جایداد یې لوټ کول د بشري حقونو د نړیوالو کنوانسینونو کاملاً خلاف عمل دي.

د دغو کډوالو په جبر نیول، وهل او ټکول، زندانونو ته اچول، مال او دارائې یې چور کول په کورونو یې د شپې له خوا چاپې لګول هیڅ ډول قانوني جواز نه لري.

یو شمېرکارپوهان د دې پرېکړې لاملونه؛ د ټیټیپي د ځېلو په موخه پر طالبانو فشار راوړل، د پاکستان ناوړه اقتصادي وضعیت له امله ترڅو د پاکستان د ټاکنو په درشل کې عامه افکار بلې خوا ته وګرزوي او همدا راز د افغان کډوالو په پلمه له نړیوالې ټولنې څخه د میلیونونه ډالرو ترلاسه کول و سیله بولي.

د پوهنتون استاد نصرالله ستانکزی وایي:

«د کډوالو د ایستلو دا پرېکړه د آی اس ای ده چې د سرپرست لومړي وزیر له خوا اجرا کېږي، دا احتمال شته چې خپل یو شمېر جاسوسان او نفوذي کسان افغانستان ته ولېږي.»

په ۱،۷ میلیونه کډوالو کې چې ټاکل شوې خپل هیواد ته ولیږل شي، د ښځو حقونو او د بشري حقونو یو شمېر فعالان، پخواني پوځیان او نور وګړي چې زیانمنونکي ګڼل کېږي شامل دي. دوي د طالبانو له وېرې پاکستان ته پناه وړې ده. اوس ځینو نړیوالو بنسټونو خبرداری ورکړی چې، جبري ایستل د طالبانو لاس ته د ځپلو لپاره د مخالفانو تسلیمول دي.

ملګروملتونو او ډېریو نړیوالو سازمانونو له اسلام آباد څخه غوښتي چې د یخنۍ او د بشري ناورین د رامنځته کېدو له امله پر خپله پرېکړه له سره غور وکړي، خو د پاکستان موقت حکومت ویلي دا یې وروستۍ پرېکړه ده.

د ټاکلي وخت په پوره کېدو سره، تر زرګونو کورنۍ زیاتې په جبري توګه د چمن او تورخم له لارې هیواد ته راستنې شوي دي، چې ددغو ډېرو کورنیو یو شمېر نارینه غړي چې د پاکستان د پولیسو له لورې نیول شوي، زندانو ته استول شوي لادرکه دي.

د پاکستان د مؤقت صدراعظم انورالحق کاکړ وروستۍ څرګندوني د دیورند د فرضی کرښې په اړه په پښتونخوا کې د هغو ملت پاله ګوندونو، عوامي نشنل پارټیو، پې ټې ایم او طالب چارواکو ته د ګوت څنډنې معنی لری، دغه غیرمسؤلانه څر ګندونې او د افغان کډوالو سره لجوجانه او ظالمانه کړنې، کولای شې د افغانانو، او د پولې اوخوا پښتنو احساسات راوپاروی، حتمي ده چې د پنجاب واکداران به په راتلونکی کې د خپل د دغو غیر انساني او اسلامي کړونه بیه ورکوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

حقیقت خو دادی، چې د فلسطین له بې وزلو خلکو او همدا ډول د افغان کډوالو سره جبر او ستم د دې له پاره تر سره کیږي چې دغه دواړه ولسونه یو قوي مقتدر په اقتصاد ولاړ ملي وحدت لرونکی دولت تر شاه نه لری، او نه هم له نړیوالو سره حسنه دیپلوماتیک تعاملات او مناسبت لري، همدا لامل دی چې نه د دوي دولتونه د خپل ولس د دفاع توان لری او نه هم د نړیوالو د پام وړ ګرځیدلی دي.

پاکستاني چارواکي په داسي شرائطو کې د افغان کډوالو د ویستلو موضوع جدي نیولي، چې د ژمي په ساړه موسم کې هم پر افغان ولس فشار راولي او هم پر طالبانو، چې ونه شي کولای د ډېرو نورو ورپیښو ستونزو تر څنګ د کډوالو د تنظیم او خوندي کیدو په هکله لازمي مرستې تر سره کړي.

زما په اند طالبان د پنجاب د واکمنود دغه غیر انساني عمل په اړه چې په داسي حساسو شیبو کې یې د افغان کډوالو په رابطه تر سره کوي، د جبران له پاره یې څه باید په صلح امیزه توګه تر سره کړي:

۱-په ټول ځواک سره د راستنیدونکو کډوالو سره اقتصادي او معنوی لازمي مرستې، او د پاکستان په هیواد کې د دوی د پانګو،جایدادونو او حقوقو د تر لاسه کولو له پاره د دیپلوماتیکو اړیکو له لارې هلې ځلې تر سره کول.

۲-د یو پیاوړي دولت او ځواک د جوړیدو په خاطر ولس او هیواد والو نه مشروعیت په یوه ساده طریقه البته د قانوني لارې نه تر لاسه کول.

۳-هیوادوالو ته د ښځو او نارینوو په ګډون د کار او مسلکي زده کړو زمینې او شرائط برابرول، اوسني ناسم بندیزونه لغوه کول، پر خپل اقتصاد متکي او خپلواک کیدل.

۴ـ د کډوالو له پاره اساسي ځانګړي ښارګوټي د هیواد په بیلا بیلو سیمو کې جوړول او په دې هکله د نړیوالو خیریه بنسټونو مرستې جلبول.

۵ -نړیوالو سره دیپلوماتیکي اړیکي او تعاملات د متقابلو ګټو او مرستو له لارې جوړول، په نظام کې مسلکي، ملی، هوډمنو او په هیواد او ولس مینو شخصیتونو ته ځای ورکول.

۶ -هغه مصرفي محصولات چې له پاکستان نه هیواد ته راځي محدودول، ګمرکي محصولات یې لوړول، د افغاني صادراتو له پاره د پاکستان پرته نورې لارې پرانستل.

۷ -د کنړ د سیند د اوبو نه د پاکستان د استفادې پر چارو دقیق او مسلکي فکر کول او محدودول یې.

۸ -د دیورند د کرښې په هکله د اروپائي اتحادیې د مرستیال د څرګندونو او له بله پلوه د پاکستان د اوسني ستونزمن اقتصادی، ټولنیزوضعیت نه د ګټه اخستوپه خاطر دغه موضوع نړیواله کول، ملګرو ملتونو، شورای امنیت او اسلامي کنفرانس ته د خپل حق د تر لاسه کولو غوښتنه او شکایت وړاندې کول.

۹ -د دیورند د کرښې او خوا پښتنو، بلوڅو،ملتپاله ، نشنل عوامي ګوندونو، پي، ټي ایم او د پنجاب د ظالمانه سیاستونو ضد ځواکونو سره نیکې اړیکې پالل، ساتل او په دغه لار کې بنسټیز کار تر سره کول. پورته اړتیاوې د یوه خپلواک او ځواکمن دولت خصوصیات دي، چې له بده مرغه پاکستان، تل له افغانانو سره د دوښمنۍ له امله د پورتنیو اړتیاوو د مخنیوې له پاره رزیلانه هلې ځلې تر سره کړي او تل یې د یو پیاوړي او ځواکمن دولت د جوړیدو مخنیوی کړي او کوي یې.

یو ځل بیا تاکید کوم، که طالبان په ریښتیا هیواد او هیواد والو ته ژمن وي، د پورتنیو چارو په عملي کولو سره دې، هیواد ته د خپلو نیکونو نوم بیا وګټي او د یو ازاد خپلواک هیواد د جوړیدو له پاره دې کار وکړي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ